# بُست

## علمي او څېړنيزه مجله

| ټوک | گڼه | کال |
|---|---|---|
| دوهم | دوهمه | ۱۴۰۲ |

# BOST UNIVERSITY IN SOCIAL MEDIA

**FACEBOOK**

@bostuniversity

**TWITTER**

@bostuniversity

**INSTAGRAM**

@universitybost

**YOUTUBE**

@bostuniversity

**LINKEDIN**

@bostuniversity

**WEBSITE**

www.bost.edu.af

**EMAIL ADDRESS**

info@bost.edu.af

research@bost.edu.af

**PHONE NUMBER**

034 200 0008

0702 300 728

بسم الله الرحمن الرحیم

# بُست علمي او څېړنیزه مجله

**بُست پوهنتون**

**دوهم ټوک – دوهمه ګڼه**

**کال – ۱۴۰۲**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

# بُست پوهنتون


**د امتیاز خاوند:** بُست پوهنتون

**مسؤل مدیر:** پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصري



**کتنپلاوی:**

⇐ پوهندوی رضوان الله مملوال

⇐ پوهنمل عبدالعزیز صابر

⇐ پوهنمل عبدالولي هجران

⇐ پوهنمل حنیف الله باوري

⇐ پوهنیار عبدالولی همت

⇐ پوهنیار بشیر احمد بابا زوی

⇐ خان محمد وفا

⇐ ډاکټر ذبیح الله انوری

⇐ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش

⇐ پوهنوال دوکتور خال محمد احمدزی

⇐ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي

⇐ پوهندوی دوکتور علی احمد

⇐ پوهنمل  دوکتور عبدالوهاب حکمت

⇐ پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصري

⇐ پوهندوی نیاز محمد زاهدي



**ډیزاین:**  د بُست پوهنتون دخپرنیزو او فرهنګي چارو مدیریت

د خپرولو کال:  ۱۴۰۲

درک: بُست پوهنتون، لښکرګاه،هلمند، افغانستان

## د بُست پوهنتون د رئيس پيغام

په نني ژوند کې د يوې علمي مؤسسې يو له مسؤليتونو څخه دا دی ، چې نه يوازې خپل محصلان د پوهې په ګاڼه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زيرمتون څخه داسې څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولنې د ژوند د اړتياوو د پوره کولو لپاره او يا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډګر کې د ګټې اخيستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسيدلو لپاره پوهنتون بايد يو داسې علمي خپرندويه ارګان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحيته منسوبين که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه يال ، خپلې علمي او څېړنيزې مقالې او ليکنې د کاغذ پر مخ باندې کښېښنودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې يې ښکاري، بايد داسې مسائل را برسيره شي، چې نه يوازې په پوهنتون پورې راګير پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانګړي ډول سره د هلمند ولايت د اوسيدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بريالیتونونه، ستونزې ، وړانديزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله يوازې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولايت ، آن د سيمې او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څېړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د يوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، يوه محبوبه او پر زياتو خلکو باندې ګرانه مجله وي او په ټول هيواد کې به خپل مينه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مينه د علمي او څېړنيزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډګر کې چې وي، يو خپرنيز ارګان وي،چې و خپريدلو ته به يې ټول مينه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تيره بيا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څېړنيزو مقالو و ليکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبينو په استازيتوب وياړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې د خپريدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستيال او د څېړنې له محترم آمر او همدا رنګه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زيار او زحمت په ګاللو سره چې مجله يې و خپريدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وايم او هيله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخرى تحليل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټينګ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډيپلوم انجنير محمود سنګين**

**د بُست پوهنتون رئيس**

## سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې یې یو بل ډیر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د دوهم ټوک، دوهمي ګنې خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څېړنیزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومې مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده او پوره باور لري چې د نننی نړی هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څېړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسي، اکادمیک انستیتوتونه او څېړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅېړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معیاري او لوړ کیفیت لوړې زده کړي وړاندی او د علمیڅېړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چې د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کې ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کې معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څېړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څېړنیزه مجله یوازي د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څېړنیزي مقالي او لیکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زیاتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشأالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څېړنیزي مجلې د خپرولو له لارې خپل دغه دروند خو ویاړلی دین (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي څښتنانو او مینه والو ته په مینه سره بلنه ورکوو چې ددی علمي او څېړنیزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلي علمي او څېړنیزي لیکني، آندونه، وړاندیزونه او رغنده نیوکي او مرستي د تل په شان راولوروی او د علم ددي ستر کور په ودانولو کي د خپلي دیني، او ملي برخي د ادایني ویاړ راوبخښی.

موږ هوډ کړیدي او هیله مند یو چي انشآ الله د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزني او څېړنیز هاند لپاره اړیني او د پام وړاسانتیاوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښي خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځي حوزي او په پاي کښي و ټولو هیوادوالو ته د یو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوریدلي اولس او ویجاړشوي هیواد اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهیوادونو په لیکه کي ودریږي.

## لړلیک

د مقالې عنوان | د صفحې شمیره


**د نباتي حشره وژونکو پېژندنه** ------------------------------ 1

پوهنمل عبدالحمید نظري

**د هلمند ولایت لښکرگاه ولسوالۍ په دوو کلیو بولان او بشران کي د تورو ماشو د تولید، لگښت او گټورتوب څېړنه** 8

پوهندوی دوکتور علي احمد، پوهندوی نقیب الله مجددي، پوهنیار محمد هاشم پوپل، میرویس نظری

**پر کرهڼه باندي د اقلیمي تغیراتو اغېزې** ------------------------------ 22

انجنیر محمدالدین خادم، پوهنیار محمدهاشم پوپل، پوهنیار محمدآمان احمدزی

**د هلمند ولایت حجاری او نجاری فابریکې اقتصادي ارزښت، ستونزي او د SWOT تحلیل څېړنه** ------ 30

پوهندوی دوکتور علي احمد، پوهندوی نقیب الله مجددي، ارسلان وطندار

**د حکومت په مالي او عایداتي جوړښت کي د سیگتاس اغېزې** ------------------------------ 41

ارسلان وطندار، پوهندوی دوکتور علي احمد، احمد لطیف

**د هلمند ولایت نادعلی ولسوالی کی د جوارو تولید اقتصادی ارزښت څیړنه** ------------------------------ 50

پوهنیار بریالی رفیع، پوهندوی دوکتور علی احمد، پوهنیار زمریالی تنی، امان الله نیازی

**د زرغون انقلاب په راوستلو کي د دولت او مسلکي خلکو رول** ------------------------------ 62

پوهنمل محمدیار ملکزی، پوهنمل عبدالحمید نظري، پوهنیار محمدهاشم پوپل

**د غنمو په تولید کي د فاسفورس رول ته کتنه** ------------------------------ 74

پوهنیار محمدهاشم پوپل، انجینر محمدالدین خادم

**د غنمو په تولید کي د غذایي موادو رول، کمښت او زهریت ته کتنه** ------------------------------ 84

پوهنیار زمریالی تنی

**د غوښینو چرگانو په فارمونو کي د واکسین د ناکامی د عواملو څېړل** ------------------------------ 98

پوهنیار عبد الولي همت

**د کار مونډني د پراختیا لپاره نویو مهارتونه ته کتنه** ------------------------------ 105

پوهنوال ډاکټر خال محمد احمدزی، پوهندوی ډاکټر علی احمد

# د هلمند ولایت نادعلی ولسوالی کی د جوارو تولید اقتصادی ارزښت څېړنه

پوهنیار بریالی رفیع*[1]، پوهندوی دوکتور علی احمد[2]، پوهنیار زمریالی تنی[3]، امان الله نیازی[4]

[1]هارټیکلچر څانګه، کرهنې پوهنځی، هلمند پوهنتون

[2]کرنیز اقتصاد او ترویج څانګه، کرهنې پوهنځی، هلمند پوهنتون

[3]نباتاتو اصلاح او تکثیر څانګه، نباتی علوم پوهنځی، انستو، کندهار

[4]اداره او تشبثات څانګه، اقتصاد پوهنځی، بُست پوهنتون

baryal.rafi@gmail.com مسؤل ایمیل ادرس:

**لنډیز**

دا څېړنه د هلمند د نادعلي ولسوالۍ د جوارو د کښت اقتصادي تحلیل تر څېړنې لاندې نیسي، چې د څېړنې د لمړنې مالوماتو نمونه د نادعلي ولسوالی د ۶۰ تنو کروندګرو څخه راټول سوي چې د ټیټي سطحي کروندګران چې کمه اندازه ځمکه لري، د منځنۍ سطحي کروندګران چې په منځنۍ سطحي ځمکه لري او د لویي سطحي کروندګران چې په زیاته اندازه ځمکه لري راټول سوي دي، نوموړې څېړنه ښيي چې په نادعلي ولسوالۍ کې د کوچنۍ سطحي کروندګر په اوسط ډول ۳.۵۷۵ جریبه ځمکه لري، ۳.۲۲۵ جریبه د جوارو کښت کرلی دی او ۰.۳۵ جریبه ځمکه بې حاصله پاته ده، د منځنۍ سطحي کروندګر په اوسط ډول ۵.۹۷۵ جریبه ځمکه لري، ۵.۴۵ جریبه کرلې او ۰.۵۲۵ جریبه ځمکه شاړه پاتې ده ، د لویي سطحي کروندګر په اوسط ډول ۸.۱۶۶ جریبه ځمکه لري ۷.۰۹ جریبه کرل سوې او ۱.۰۷ جریبه ځمکه بې کښته پاته سوې. د ټیټي سطحي کروندګرو د خپل کښت څخه ۲۶۱۰ کیلوګرامه او في جریب ۸۷۰ کیلوګرامه جوار تر لاسه کړي، د منځنۍ سطحي کروندګرو په اوسط ډول ۴۹۰۶ کیلوګرامه او في جریب یې ۹۵۰ کیلوګرامه جوار تر لاسه کړي دي. د لویي سطحي کروندګرو ټول ۱۳۷۴۷.۵ کیلوګرامه، في جریب یې ۱۰۶۰ کیلوګرامه جوار تر لاسه کړي دي د کوچیني سطحي کروندګرو د جوارو د کښت څخه په اوسط ډول ۴۸۳۷۵ افغانۍ في جریب ۲۰۲۵۰ افغانۍ تر لاسه کوي، د منځنۍ سطحي کروندګر د جوارو څخه په اوسط ډول ۸۱۷۵۰ افغانۍ في جریب ۲۱۴۷۵ افغانۍ تر لاسه کړي، د لویي سطحي کروندګرو په اوسط ډول ۲۲۹۱۲۵ افغانۍ او في جریب یې ۲۷۸۰۰ افغانۍ تر لاسه کړي د نادعلي ولسوالۍ کروندګر د جوارو د فروش څلورو چینلونه لري، چې ۴ تنه یې د کلي په بازار کې او د هغه څخه مصرف کوونکي ته، ۳۹ تنه کروندګر د لښکرګاه ښار په منډيي کښې، ۶ تنه کروندګر د ولسوالۍ په بازار کې او ۱۱ تنه کروندګر د ولسوالیو په محلي میله ځایونو کې پلورلي. د جوارو د تولید په وړاندي لویي ستونزي عبارت دي له وچکالی، د کښت د اوبولو لوړ مصرف، د عصري ټکنالوژۍ نستون، د دولت نه همکاري، زراعتي ناروغۍ او د باکیفیته درملو نشتون دی. جوارو په مارکیټ کې تر ټولو لویه ستونزه د جوارو د پروسیس کمپنۍ نشتون د ۵۸ کروندګرو ته ستونزه ده، د منظم بازار نشتوالی د ۴۸ کروندګرو لپاره د مارکیټ یوه ستونزه ده، او د ۳۸ کروندګرو لپاره د ذخیروي ګدامونو نشتون یوه ستونزه بلل کیږي، د ۲۹ کروندګرو لپاره د قیمتونو غیر ثبات حالت، د ۴۹ کروندګرو لپاره د مارکیټ په اړه مالوماتو نشتون او د ۳۴ کروندګرو لپاره ټرانسپورټ د مارکیټ ستونزه بللې ده.

**کلیدي کلیمي:** جوار، اقتصادي ارزښت او ستونزی

**سریزه**

جواری دمرکزی او جنوبی امریکا له بو می نباتاتو څخه دی چی دکرلو تاریخچه دنړی په مختلفو هیوادونو کی خصوصا د اورپا . افریقا. اقیانوس په هیوادونو کی چندانی اوږده سابقه نه لری جواری یوله کرهنیزو نباتاتوله جملی څخه و چی زیاتره دجنوبی امریکاد سور پوستو دقبیلی په واسطه کرل کیده نو په دی توګه کرستفر کولمب چی ددی ګروپ مشر و دا بوټی یی د.Maize په نوم و نوماوه له جنوبی امریکا څخه هسپانیی ته وارد سول او ورسته اروپا یی هیواونوته یو وړل سوه اوکرهنی یی د غذایی ارزښت له امله پراختیاوموندل. جوار په قوي احتمال له مرکزي امریکا ( مکسیکو او کواتیمالا) څخه لکه رومي بانجان، تنباکو او کچالو نوري نړۍ ته معرفي شوي دي. ۵۰۰۰ کاله ترمخه جوار په امریکا کې کرل کیدل. د امریکا په کشف سره جوار په شمالي او جنوبي امریکا کې په زیاته پیمانه خواره شول. بالاخره د ۱۵ پیړۍ په وروستیو کې جوار له امریکا څخه هسپانیا ته راوړل شول چې وروسته له دې ځاي څخه نورو اروپائي هیوادونه ته معرفي شول.په ۱۷ پیړۍ کې جوار له ترکیه څخه ایران ته معرفي شول او احتمال لري چې له ایران څخه زمونږ هیواد ته معرفي شوي وي. په نړیوال مقیاس کې ۱۱۸ میلیون هکتاره ځمکه د جوارو کرونده جوړوي چې له دې جملې څخه ۲۲ فیصده ئې د امریکا کې متحده ایالات تشکیلوي په امریکا د جوار کښت له نورو نباتاتو څخه ډیر زیات دي ځکه د انسانانو او حیواناتو خوراك جوړوي. د ۱۳۶۳ کال دراپور له مخې زمونږ په هیوادکې ۲۴۰۰۰۰ هکتاره ځمکه د جوارو تر کښت لاندې ده. د نړۍ په سطح د جوارو اوسط حاصل په یو هکتار ځمکه کې ۲۷۰۰ کیلو ګرامه دي ، د امریکا په متحده ایالاتو کې له جوارونه لوړ حاصل ton/h6 لاس ته راوړي.ځیني هیوادونه په څېړنیزو فارمونو کې له جوارونه لس ټنه حاصل په یو هکتار ځمکه کې تر لاسه کوي. په افغانستان کې د ۱۳۶۴ کال د احصائیي له مخې د جوارو اوسط حاصل په یو هکتار ځمکه کې ۱٦٦٧ کیلو ګرامه دي . جوار یو ډیر مهم غذائي بوټی دي. د جوارو دانه د غوړو اونشایستې له پلوه زیاته غني ده د زیړو جوارو دانه Crotin لري. د جوارو اوړه چسپناکه ماده Gluten په لږاندازه لري چې د ډوډۍ د پخولو لپاره مناسب نه دي. مګر که د غنمو یا جودرو اوړه ورسره ګډشي په ښه ډول ترینه ډوډۍ،کیك، کلچې او نورې شیریني غذا وتیاریدلاي شي. د جوارو له دانې نه نشایسته،بیر، الکول، مصنوعي رابر او له ځینو نوعونه چې زیاته اندازه غوړي ( د ۳۰% فیصده په شاه وخواکې ولري) غوړي، دواګانې او ویتامین E لاس ته راځي. د جوارو تنې د خامو موادو په حیث د کاغذ جوړولو، سلولوز، مصنوعي لرګیو، عایقي موادو او نورو کې استعمالیږي. د جوارو له شوټې نه د پلاستیك او سریښن په جوړولو کې کار اخستل کیږي، زمونږ په هیواد کې جوار د انسانانو دخوراك په حیث په مصرف رسیږي مګر په پرمختللو هیوادونو کې جوار د حیواناتو د خوراك لپاره زیات کرل کیږي ، جوار د ټولو اهلي حیواناتو لپاره یوه بهترینه غذا ده. د جوارو له خالص کښت یا له سائبینو ، لوبیا او نورو حبوباتو سره په یو ځائي ډول ښه سایلیج ورنه لاس ته راځي ، جوار په نړۍ کې یو له خورا پراخه کرل شوي حاصلاتو څخه دی. جوار د نړۍ په کچه له ۱۷۰ څخه په زیاتو هیوادونو کې کرل کیږي. د جوارو تولید په ځینو سیمو لکه شمالي امریکا او اسیایي هیوادونو کې ډیر عام دی. د متحده ایالاتو د کرنې وزارت په وینا، په ۲۰۲۰ م کال کې په متحده ایالاتو US، چین، برازیل او ارجنټاین کې د جوارو تولید د نړیوال تولید ۶۴.۶۳ ٪ برخه جوړول .(Chaudhary, 2006)

جوار په ډیرو هیوادونو کې کرل کیږي، چې د نړۍ لس لوی هیوادونه چې نړۍ ته ډیر جوار تولیدوي لمړنی هیواد د امریکا متحده ایات دی، چې نړۍ ته په زیاته اندازه جوار تولیدوي. چې د کاله په اوسط ډول 392,450,840 کیلو ګرامه جوار هر کال تولیدوي (FAO, 2019).




**۱ شکل: د نړۍ په کچه د جوارو تولید**

په پورته شکل کې د جوارو لوی تولیدونکي هیوادونه ښودل سوي چې چې سور رنګ کې امریکا او کاناډا هیوادونه دي چې هر کال په زیاته اندازه جوار نړۍ ته وړاندي کوي. همدارنګه چین او هند هیوادونه هم په زیاته اندازه جوار تولیدوي، جوار نسبتاً په ګرمو منطقو کې کرل کیږي نو په همدې اساس په یخو سیمو کې تولید کم دی.




**۲ شکل: د جوارو عمده تولید کوونکی هیوادونه او تولید کچه په (کیلو گرام)**

**څېړنیزه ستونزه:** جوار د گرمي سيمي نبات دی چې په هلمند کې جوار ډېر ښه حاصل ورکوي، هر کال د هلمند د بېلابېلو ولسواليو څخه په زیاته اندازه جوار تر لاسه کیږي، خو ستونزه داده چې د جوارو د تولید لوړ لگښت، د فروش لپاره مناسب بازارنشتون او د جوارو د پروسیس لپاره امکاناتو نشتوالی کروندگر دی ته اړ کړی چې د رفع حاصل وروسته په ډېره کمه گټه په محلی بازارونو کی و پلوري.

**د څېړني اهمیت:** دا چې جوار د هلمند د مهمو زراعتي محصولاتو څخه دی، خو بیا هم په هلمند کې د جوارو کاروبار ډېر کمزوری دی،

دډ څېړني اهمیت دادی چې هلمند د نادعلي ولسوالی د جوارو د کښت لگښت، خالص، مجموعي عواید او د مارکيټ چینلونه تر څېړني لاندي نیسي. تر څو په راتلونکې کې په نورو علمي څېړنو او کاروبارونو کې ددې څېړني څخه گټه واخیستل سي.

**د څېړني موخی:**

- د جوارو د تولید ناخالصه گټه او خالصه گټه معلومول.
- د جوارو د تولید لگښت تحلیل کول.
- د جوارو د تولید خنډونه روښانه کول.

**مواد او کړنلاره**

**الف. د څېړني ځای او وخت**

دا څېړنه د هلمند ولایت، ناد علی ولسوالی کی په کال ۱۴۰۰ هـ ش کی ترسره سوې ده.

**ب. د څېړنې ډیزاین**

دا یوه کمي او کیفي څېړنه ده، د څېړني موقعیت مو د هلمند ولایت ناد علی ولسوالی په قصدي ډول ټاکلی وو ځکه چې په دی ولسوالی کی جوار زیات کرل کیږی خو په ضمن کي (۶۰) د پوښتنلیکونو ځواب ورکوونکی په تصادفي ډول پوښتل سوي دي، چې په همدې سیمو کي د جوارو په کرکیله باندي لگیا وه. ددی لپاره چې هر اړخیز او بشپړه معلومات ترلاسه کړو، د کروندگرو کروندی مو په (۳) کټگوریو وویشل چې په لاندی جدول کی ښودل سوی دی.

**۱ جدول: د کروندو کټگوری**

| **د کروندی ډول** | کوچنی | منځنی | لوی |
|---|---|---|---|
| **د ځمکی اندازه** | ۱-۵ جریب | ۶-۱۰ جریبه | ۱۱-۱۵ جریبه |

**ج. مواد**

په دی څېړنه کی د دوهمي او لومړنی معلوماتو څخه استفاده سوی ده. دوهمي معلومات د کتابتونو، انټرنیټي ویبسایټو، ملی او نړیوالو ژورنالو څخه راټول سوي دی او ددی ترڅنگ لومړني معلومات د ناد علی ولسوالی د کروندگرو (ځواب ورکوونکی) څخه د پوښتنلیك او مرکی په ډول تر لاسه کړل سوی دی.

**د. احصائیوي تحلیل**

په دې څېړنه کي راټول سوي معلومات د اکسل په پرگرام کي تحلیل سوي دی.

**نتیجه او مناقشه**

**په نادعلي ولسوالی کې د جوارو کښت**

نادعلي د هلمند د زراعتي ولسوالی څخه ده، چې د جوارو ښه حاصلات ورکوي، د جوارو په موسم کې نادعلي کې اکثريت خلگ په خپله ځمکه باندي جوار کري چې په لاندي جدول کې د جوارو کرکیله په لویه، منځنی او کوچینی سطحه ښودل سوی دی.

**۲ جدول: په هلمند کې د جوارو کرکیله**

| Particulars | Small | Medium | Large | Sample Average |
|---|---|---|---|---|
| Total Area (Jerib) | 3.575 | 5.975 | 14.95 | 8.166666667 |
| Area under Maize Cultivation (Jerib) | 3.225 | 5.45 | 12.6 | 7.091666667 |
| Other Crops (Jerib) | 0.35 | 0.525 | 2.35 | 1.075 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

په پورته (۲) جدول کې ګورو چې د کوچنی سطحې کروندګر په اوسط ډول ۳.۵۷۵ جریبه ځمکه لري، چې ۳.۲۲۵ جریبه یې کرلې ده او ۰.۳۵ جریبه ځمکه بې کښته پاته سوې ده، د منځنۍ سطحې کروندګر په اوسط ډول ۵.۹۷۵ جریبه ځمکه لري، چې ۵.۴۵ جریبه کرل سوې او ۰.۵۲۵ جریبه پاته سوې، د لويي سطحې کروندګر په اوسط ډول ۸.۱٦٦ جریبه ځمکه لري چې ۷.۰۹ جریبه کرل سوې او ۱.۰۷ جریبه ځمکه بې کښته پاته سوې. چې په لاندې ګراف کې ښه واضع سوې دي.




**۳ شکل: د جوارو د کښت ساحه**

**د جوارو حاصلات**

دا چې جوار د ګرمي سیمي نبات دی نو په همدې خاطر په هلمند کې جوار ښه حاصل ورکوي، په نادعلي ولسوالی کې جوار ډیر ښه حاصل ورکوي چې په لاندې جدول کې د لويي سطحې، منځنۍ سطحې او ټیټي سطحې کروندګرو د جوارو ټوټل حاصلات او في جریب حاصلات ښودل سوي دی.

| Particulars | Small | Medium | Large | Sample Average |
|---|---|---|---|---|
| Total maize Products | 2610 | 4906 | 13747.5 | 7087.5 |
| Maize Products per jarib | 870 | 950 | 1060 | 960 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

په (۳) جدول کې موږ د جوارو حاصلات ګورو چې د ټیټي سطحي د کروندګرو د خپل کښت څخه ۲۶۱۰ کیلوګرامه جوار تر لاسه کړي چې في جریب یې ۸۷۰ کیلوګرامه کیږی، د منځنی سطحي کروندګرو په اوسط ډول ۴۹۰۶ کیلوګرامه جوار تر لاسه کړي، چې في جریب یې ۹۵۰ کیلوګرامه جوار تر لاسه کړي دي. د لویي سطحي کروندګرو ټول ۱۳۷۴۷.۵ کیلوګرامه جوار چې في جریب یې ۱۰۶۰ کیلوګرامه جوار کیږی تر لاسه کړي دي. چې په زیاته اندازه په لویه سطحه کروندګرو جوار تر لاسه کړي دي. چې اوسط ډول في جریب حاصلات هم ورڅخه لوړ دي.




**۴ شکل: د جوارو د حاصلاتو کچه**

**د جوارو د تولید لګښت**

د جوارو د تولید لګښت په کوچینی، منځنی او لویو کروندو کی په لاندی جدول کی ښودل سوی دی.

**۴ جدول: په نادعلي ولسوالۍ کی د جوارو د تولید لګښت**

| ځانګړتیاوي | کوچینی | منځنی | لوی | اوسط |
|---|---|---|---|---|
| د اوبو لګول | 1915 | 7200 | 7100 | **5405** |
| کیمیاوی کود | 20300 | 49550 | 80450 | **50100** |
| کیمیاوي درمل | 1245 | 1600 | 2220 | **1688.333** |
| اصلاح سوی تخم | 2010 | 1815 | 4270 | **2698.333** |
| کاریګر | 1625 | 4575 | 9422 | **3100** |
| د کروندګر سهم | 18400 | 35875 | 72100 | **27137.5** |
| ذکات | 6142.5 | 16250 | 32075 | **18155.83** |
| ضایعات | 627.5 | 1700 | 9700 | **4009.167** |
| د ځمکي اماده کول | 6375 | 9550 | 13000 | **11275** |
| Manure د حیوانی سره | 2675 | 3725 | 7750 | **4716.667** |
| مجموعه | 61315 | 131840 | 238087 | **143174.3** |

**منبع: د ساحي څخه راټول سوي معلومات**

په (۴) جدول کې ګورو چې د کروندګر تر ټولو لوی مصرف کیمیاوي کود دی، دوهم قدم کې د کروندګر سهم دی، دريم قدم کې ذکات دی، وروسته تر هغه د خمکې اماده کول دی، چې د مزدور د لاس اجوره او حيواني سرې وروسته دی.

## د جوارو د تولید مجموعي عواید

په نادعلي ولسوالی کې جوار د ښه حاصل په وجه ښه عاید هم ورکوي، چې په اوسط ډول پر جريب ۱۱۹۷۵۰ افغانی عايد ورکوي. د جوارو د کښت څخه د کروندګرو عايد په لاندي جدول کې ښودل سويدي.

**۵ جدول: په نادعلي ولسوالی کې د جوارو مجموعي عواید (افغانی)**

| Particulars | Small | Medium | Large | Sample Average |
|---|---|---|---|---|
| Total Income | 48375 | 81750 | 229125 | 119750 |
| Income per jarib | 20250 | 21475 | 27800 | 23175 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

د جوارو د کښت څخه په اوسط ډول ۱۰۲۸۷۵ افغانی ټوټل عايد تر لاسه سوی دی چې في جريب ۱۷۸۵۰۰ افغانی عايد کيږي، د کوچنيو سطحي کروندګر حاصل د جوارو د کښت څخه ۴۸۳۷۵ افغانی تر لاسه کوي، چې في جريب هر کروندګر ۱۲۰۰۰ زره افغانی تر لاسه کوي، په منځنی سطحه کروندګر د جوارو څخه په اوسط ډول ۸۱۷۵۰ افغانی تر لاسه کړي دي، چې في جريب يې ۱۳۵۰۰ افغانی کيږی او د لويي سطحي کروندګر په اوسط ډول ۲۲۹۱۲۵ افغانی او في جريب يې ۱۴۶۰۰ افغانی تر لاسه کړي.




**۵ شکل: د جوارو مجموعی عواید په افغانی**

## د جوارو د تولید خالص عواید

په لاندي جدول کې روښانه سوی چې د لويي سطي کروندګرو ټول حاصل ۲۲۹۱۲۵ افغانی ټول عايد دی، چې پر جريب د لويي سطحي د کروندګرانو ټول عايد ۲۷۸۰۰ افغانی کيږي، او خالص عايد ددې کروندګرو ۱۶۳۶۳۳ افغانی او پر جريب ددې کروندګرو ۱۲۹۸۶.۷۵ افغانی دی چې ددې ۲۵٪ سلنه يې ۶۱۱۶۵ افغانی کيږي.

د منځنی سطحي کروندګرو عايد ۸۱۷۵۰ افغانی دی، چې پر جريب ۲۱۴۷۵ افغانی کيږي، خالص عايد يې ۴۶۱۱۵ افغانی او پر جريب ۸۴۶۱. ۴۶۸ افغانی کيږي، چې ټوټل ددې ۳۵۹۲۵۰ افغانی کيږي. چې

د منځنی سطحي د کروندگرو عاید نسبتاً تر ټیټي سطحي کروندگرو زیات دی. د ټیټي سطحي د کروندگرو ټول عاید ۴۸۳۷۵ افغانی کیږي، چې پر جریب باندي ۲۰۲۵۰ افغانی کیږي او خالص عاید يې ۳۴۹۱۲.۵ افغانی او پر جریب خالص عاید يې ۱۰۸۲۵.۵۸ افغانی کیږي. چې په عمومي ډول يې عاید همدومره دی.

**٦ جدول: د جوار د تولید خالص عواید (افغانی)**

| فیجریب خالص عواید | خالص عواید | فی جریب | ټولټال عواید | د کروندی ډول |
|---|---|---|---|---|
| 12986.75 | 163633 | 27800 | 229125 | په لویه سطحه |
| 8461.468 | 46115 | 21475 | 81750 | په منځنی سطحه |
| 10825.58 | 34912.5 | 20250 | 48375 | په ټېټه سطحه |
| 32273.8 | 244660.5 | 69525 | 359250 | ټولټال |
| 8068.449 | 61165.13 | 17381.25 | 89812.5 | Percentage 25% |
| 4034.224 | 30582.56 | 8690.625 | 44906.25 | 50% |
| 3025.668 | 22936.92 | 6517.969 | 33679.69 | 75% |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**د جوارو د مارکیټینگ چینلونه**

د جوارو تولید د کروندگرو لخوا په مختلیفو بازارونو کی پلورل سوی دی چی په (۷) جدول کی ښودل سوی دی.

**۷ جدول: د جوارو د مارکیټینګ چینلونه**

| شماره | د پلور چینل | د پلورونکو شمیر |
|---|---|---|
| ۱ | د کلي بازار | 4 (24%) |
| ۲ | د ولسوالی بازار | 6 (36%) |
| ۳ | محلي میلي | 11 () |
| ۴ | لښکرگاه غله جاتو مارکیټ | 39 () |
| | **ټولټال** | **60 (100%)** |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

په لومړی چینل کی تولید کوونکی خپل محصولات پر کلیوالي دوکاندارانو پلوری او کلیوالي دوکانداران خپل محصولات پر مصرف کوونکو پلوری، په یاده ساحه کی دغه چینل کارونکی ۴ کسان وه چی ۲.۴ ٪ جوړوی .په دوهم چینل کی تولید کوونکی خپل محصولات د ولسوالی په بازار کې پلوری او عمده فروشان خپل محصولات پر پرچون فروشانو پلوری او پرچون فروشان خپل محصولات پر مصرف

کوونکو پلوري، په یاده ساحه کې دغه چینل کارونکی ٦کسان وه چې ۳.٦ ٪ جوړوي په دریم چینل کې تولید کوونکی خپل محصولات د محلي میله ځایونو کې پلوري او میله ځایونو کاروباریان خپل محصولات پر عمده فروشانو پلوري او پرچون فروشان خپل محصولات پر مصرف کوونکو پلوري، په یاده ساحه کې دغه چینل کارونکی ۱۱ کسان وه چې ٦.٦ ٪ جوړوي، تولید کوونکی خپل محصولات د لښکرګاه ښار په عمده پلورنځای یا منډيي کې پلوري او پرچون فروشان خپل محصولات پر مصرف کوونکو پلوري، په یاده ساحه کې دغه چینل کارونکی ۳٦کسان وه چې ۲۱.۵ ٪ جوړوي. چې تر ټولو زیاته سلنه ده.

**د جوارو د تولید په وړاندې ستونزې**

د جوارو د تولید په برخه کې ستونزې په درو سرو کروندو کې په لاندې جدول کې ښودل سوې دي.

**۸ جدول: د جوارو د کښت په وړاندې ستونزې**

| د جوارو په تولیداتو کې ستونزې | هو | نه |
|---|---|---|
| وچکالي (اوبه) | 49 | **11** |
| ناروغی | 37 | **23** |
| د تکنالوژی نشتون | 45 | **15** |
| اصلاح سوو تخمونو نشتوالی | 29 | **31** |
| مالي ملاتړ نشتون | 26 | **34** |
| د اوبو لوړ مصرف | 47 | **13** |
| د کرهنې په برخه کې د دولت نه همکاري | 42 | **18** |
| د زراعتي موسیساتو کمښت | 28 | **32** |
| د مسلکي کسانو نشتون | 18 | **42** |
| د باکیفیته درملو نشتون | 34 | **26** |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

د جوارو د تولید په وړاندې لویه ستونزه وچکالي ده، چې ۴۹ تنه کروندګرو د جوارو پر کښت يې اغیز کړی، د اوبو لوړ مصرف د ۴۷ کروندګرو پر عاید باندې ناوړه اغیزې کړې، د ۴۵ کروندګرو پر کښت باندې د عصري ماشین الاتو نشتون، ۴۲ کروندګرو پر کښت د زراعت په برخه کې د دولت نه همکاري، ۲۹ د اصلاح سوو تخمونو نتشوالی، ۳۷ کروندګرو پر کښت ناروغیو او ۲۶ کروندګرو پر کښت د باکیفیته درملو نشتون اغیز کړی دی.

**د جوارو په مارکیټ کې ستونزې**

د جوارو د بازار موندنې په برخه کې ستونزې په درو سرو کروندو کې په لاندې جدول کې ښودل سوې دي.

**۹ جدول: د جوارو د مارکیټ په وړاندي ستونزي**

| د جوارو په مارکیټینګ کې ستونزي | نه | هو |
|---|---|---|
| د جوارو د پروسیس نشتوالی | 2 | 58 |
| د منظم بازار نشتون | 12 | 48 |
| د ذخیروي ګدامونو نشتون | 22 | 38 |
| د قیمتونو نوسانات/ (د قیمتونو تغیر) | 31 | 29 |
| د مارکیټ په اړه د معالوماتو کمښت | 11 | 49 |
| د ټرانسپورټ ستونزه | 26 | 34 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

د جوارو په مارکیټ کې تر ټولو لویه ستونزه د جوارو د پروسیس کمپنۍ نشتون دی، چې ۵۸ کروندګرو ته دا یوه ستونزه ده، چې د جوارو پر قیمت باندي یې اغیز کړی دی، د منظم بازار نشتوالی د ۴۸ کروندګرو لپاره د مارکیټ یوه ستونزه ده، او د ۳۸ کروندګرو لپاره د ذخیروي ګدامونو نشتون یوه ستونزه بلل کیږي، د ۲۹ کروندګرو لپاره د قیمتونو غیر ثبات حالت، د ۴۹ کروندګرو لپاره د مارکیټ په اړه مالوماتو نشتون او د ۳۴ کروندګرو لپاره ټرانسپورټ د مارکیټ ستونزه بللې ده. چې نسي کولای په صحي ډول خپل محصولات تر مارکیټ پوري ورسوي. په نادعلي ولسوالی د کروندګرو لپاره یوه لویه عمده ستونزه د مالوماتو نشتون دی چې ددې له وجې په نادعلي ولسوالی کې ډیر کروندګر په ډیر ارزانه قیمت باندي د جوارو محصولات پلوري.

**پایله**

1. په نادعلي ولسوالی کې د کوچنی سطحي کروندګران په اوسط ډول ۳.۵۷۵ جریبه ځمکه لري، ۳.۲۲۵ جریبه د جوارو کښت کرلی دی او ۰.۳۵ جریبه ځمکه بې حاصله پاته ده، د منځنی سطحي کروندګر په اوسط ډول ۵.۹۷۵ جریبه ځمکه لري، ۵.۴۵ جریبه کرلې او ۰.۵۲۵ جریبه ځمکه شاړه پاتې ده ، د لویي سطحي کروندګر په اوسط ډول ۸.۱۶۶ جریبه ځمکه لري ۷.۰۹ جریبه کرل سوې او ۱.۰۷ جریبه ځمکه بې کښته پاته سوې.
2. د ټیټي سطحي د کروندګرو د خپل کښت څخه ۹٦۷.۵ کیلوګرامه او في جریب ۴.۰۵ کیلوګرامه جوار تر لاسه کړي، د منځنی سطحي کروندګرو په اوسط ډول ۱٦۳۵ کیلوګرامه او في جریب یې ۴۲۹.۵ کیلوګرامه جوار تر لاسه کړي دي. د لویي سطحي کروندګرو ټول ۴۵۸۲.۵ کیلوګرامه، في جریب یې ۵۵٦ کیلوګرامه جوار تر لاسه کړي دي
3. د کوچینی سطحي کروندګرو د جوارو د کښت څخه په اوسط ډول ۴۸۳۷۵ افغانی في جریب هر کروندګر ۲۰۲۵۰ افغانی تر لاسه کوي، د منځنی سطحي کروندګران د جوارو څخه په اوسط ډول ۸۱۷۵۰ افغانی في جریب ۲۱۴۷۵ افغانی تر لاسه کړي، د لویي سطحي کروندګرو په اوسط ډول ۲۲۹۱۲۵ افغانی او في جریب یې ۲۷۸۰۰ افغانی تر لاسه کړي
4. د کوچینی سطحي د کروندګرو ټوټل جوار ۹٦۷.٦ کیلوګرامه جوار دي، د منځنی سطحي د کروندګرو جوار ۱٦۳۵ کیلوګرامه دي او د لویي سطحي د کروندګرو جوار ۴۵۸۲.۵ کیلو ګرامه ته رسیږي. چې

په دې کښې يو شمير جوار کروندګر، ملا، ميلې او د تخم لپاره جلا کوي، د ټيټي سطحي کروندګرو ټول مصرف ۱۳۴۶۲.۵ افغانی، د منځنی سطحي کروندګرو ټول مصرف ۳۵۶۳۳ زره افغانی، او د لوړي سطحي کروندګرو مصرف ۲۲۹۱۲۵ افغانی کيږي، چې په دې کښې د ملا، کروندګر، د تخم او ځيني نور جواري ورڅخه جلا سوي دي. د ټيټي سطحي د کروندګرو خالصه ګټه ۳۴۹۱۲.۵ زره افغانی ده، د منځنی سطحي د کروندګرو خالصه ګټه د جوارو د حاصلاتو څخه ۴۶۱۱۵ زره افغانی خالصه ګټه ده، او د لوړي سطحي د کروندګرو خالصه ګټه ۸۱۵۵۳.۵ زره افغانی ګټه ده،

5. د نادعلي ولسوالی کروندګر د جوارو د فروش څلورو چينلونه لري، چې ۴ تنه يې د کلي په بازار کې او د هغه څخه مصرفوونکي ته، ۳۹ تنه کروندګر د لښکرګاه ښار په منډيي کښې، ۶ تنه کروندګر د ولسوالی په بازار کې او ۱۱ تنه کروندګر د ولسواليو په محلي ميله ځايونو کې پلورلي.

6. د جوارو د توليد په وړاندي لويي ستونزي عبارت دي له وچکالی، د کښت د اوبولو لوړ مصرف، د عصري ټکنالوژی نستون، د دولت نه همکاري، زراعتي ناروغی او د باکيفيته درملو نشتون دی.

7. جوارو په مارکيټ کې لوي ستونزه د جوارو د پروسيس کمپنی نشتون د منظم بازار نشتوالی، د ذخيروي ګدامونو نشتون، د قيمتونو غير ثبات حالت، د مارکيټ په اړه مالوماتو نشتون او د ټرانسپورټ ستونزه ده.

**وړانديزونه**

1. جوار چې د هلمند مهم زراعتي محصول دی، په ورستيو کلونو کې د وچکالی او مرضونو له وجې حاصلات کم سوي، دولت ته په کار ده چې د اوبو د مهار لپاره موثره پرګرامونه تطبيق کړي.
2. سولر سيستم چې په ډيره غيرمسولانه او غير انصافانه شکل اوبه د ځمکي د شکم څخه رابارسي دولت ته په کار ده چې د سولر سيستم مخه ونيسي او پر ځای يې د اوبو د ډراب سيستم رامنځته کړي.
3. د جوار د محصولاتو د زياتوالي په موخه د جوارو د کښت په اړه د کروندګرو ته عامه پوهاوی ورکول او اصلاح سوي تخمونه ويشل.
4. په داخل هيواد کې د پانګوني د جلب او جذب په موخه پر بنسټيزو زيربناوو لکه بريښنا او لويو لارو تاسيسات رغولو باندي پانګونه کول.
5. د داخلي تصدی د ملاتړ په موخه پر بهرنيو ورته محصولاتو باندي لوړ ګمرکي محصولات وضع کول.
6. دا چې هلمند بهترين جوار لري، د جوارو اړوند تصدی پانګوني ته جلب او تشويقول.

## اخځليکونه

1. Abdula Danilo Carimo. Improving Maize Marketing and Trade Policies to Promote Household Food Security in Southern Mozambique‖. Michigan State University, 2005, 3.

2. Akhtar SA, Mandal SS, Singh LN. A Comprehensive Review of Research and Development of Maize in Bihar''. The Bihar Journal of Agricultural Marketing. Review. 2000; 4(8):351-360.

3. Babatunde, Raphael, Oyatoye, Eniola. Food Security and Marketing Problems in Nigeria: The Case of Maize Marketing in Kwara State‖. Department of Agricultural Economics and Farm Management, University of Ilorin, PMB 1515, Ilorin, Kwara State, Nigeria, 2004.

4. Badal PS, Singh RP. Dynamics of Maize Development‖. The Bihar Journal of Agricultural Marketing Review. 1999; 3(4):227-235.

5. Badal PS, Singh RP. Production, Marketing and Utilization of Maize in Bihar‖. The Bihar Journal of Agricultural Marketing. 2000; 1(8):15.

6. Badal PS, Singh RP. Economics of Maize Marketing: A Case Study of the Western Zone of Bauchi State of Nigeria. The Bihar Journal of Agricultural Marketing. 2001; 9(1):20-22.

7. Badal PS, Singh RP. Factors Affecting Adoption of Maize Cultivars in Bihar‖. Agricultural Economics Research Review. 2001; 14(2):23-25.

8. Badal PS. Singh RP. Technological Changes in Maize Production‖ A Case Study of Bihar. Indian Journal of Agricultural Economics. 2001; 2(56):56-58.

9. Chaudhary SK, Jha G. Productivity of Maize Based on Cropping System and their Effects on Soil Health under Rain fed Conditions of North Bihar Plains. Journal of farming Systems Research & Development. 2006; 12(1, 2):51-53.

10. Cruz, Antonio FS. Maize Trade in Southern Africa‖ African Economic Research Consortium (AERC), 2006. http: //www. Sarpn.org.za/documents/d0002266 /index.php.

11. Karanja DD, AGO Oketch. The Impact of Maize Research in Kenya. In Proceedings of a Workshop. Review of the National Maize Research Program. KARI/ISNAR. Management Training Linkage Project, 1992. 100pg Kushwaha S. and Abdul.

12. Kadir Adanu. Economics of Maize Marketing: A Case of the Western Zone of Bauchi State of Nigeria. ‖ The Bihar Journal of Agricultural Marketing. 2001; 9(10):51-53.

13. Jaipaul, Sanjeev K Sandal, Suri VK, Dhiman AK. Validation of Fertilizer Adjustment Equation Based on Yield Target Conduct and Complimentary Use of Organic and Bio fertilizers along with Inorganic Fertilizers in Rain fed Maize, Wheat System in Wet Temperate Zone of Himachal Pradesh. Indian Journal of Agricultural Sciences. 2008; 78(6):490-4.

# The Study of Economic Analysis of Maize in Nad Ali district of Helmand Province

Baryalai Rafi[1*], Dr. Ali Ahmad[2], Zamaryalia Tani[3] and Amanullah Niazai[4]

[1]Teaching Assistant, Horticulture Department, Agriculture Faculty, Helmand University

[2]Assistant Professor, Agricultural Economics Department, Agriculture Faculty, Helmand University

[3]Teaching Assistant, Department of Genetics, Plant Science Faculty, ANASTU, Kandahar

[4]Teaching Assistant, BBA Department, Faculty of Economics, Bost University

Corresponding Author Email: baryal.rafi@gmail.com

## Abstract

This study examines the economic analysis of maize cultivation in Nad Ali district of Helmand Province. The primary data sample of the research was collected from 60 respondents (Maize growers) in Nad Ali district, which are low-level farmers who have a small amount of land, medium-level farmers. Those who have medium-sized land and large-scale farmers who have a large amount of land have gathered. The research shows that in Nad Ali district, the small-scale farmer has an average of 3.575 Jeribs of land, 3.225 Jeribs of corn has been cultivated and 0.35 Jeribs of land is left unharvested. The medium farms have 0.975 Jeribs of land, 5.45 Jeribs of land is cultivated and 0.525 acres of land is left fallow, the average large surface farms have 8.166 Jeribs of land, 7.09 Jeribs of land is cultivated and 1.07 Jeribs of land is left uncultivated. The low-level farmers obtained 2610 kilograms of corn and 870 kilograms per Jeribs from their crops, while the average farmers obtained 4906 kilograms and 950 kilograms of corn per Jeribs. A total of 13747.5 kilograms of large-scale farmers, 1060 kilograms of corn per Jeribs has obtained. Small-scale farmers received an average of 48375 Afs in total and 20250 Afs per Jeribs from the cultivation of corn. Overall, Medium size farms received an average of 81,750 Afs and 21,475 Afs per Jeribs. The farmers of the large area received an average of 229,125 Afs and 27,800 Afghanis per Jeribs. In Nad Ali district has four marketing channels for Maize. 4 farmers sold their products in Village markets, 39 Farmers sold their produce in Lashkergah cereal market, 6 farmers sold in the district market and 11 farmers sold in the local fairs of the districts. Major problems facing corn production include drought, high irrigation consumption, lack of modern technology, non-cooperation of the government, agricultural diseases and lack of quality medicines. The biggest problem in maize market is lack of maize processing company is a problem for 58 farmers, lack of regular market is a market problem for 48 farmers, and lack of storage facilities is a problem for 38 farmers. Instability of prices for 29 farmers, lack of information about the market for 49 farmers and transport for 34 farmers have been called a market problem.

**Keywords:** Maize, Economic analysis and Problems

# BOST

Academic & Research National Journal


| Volume | Issue | Year |
| --- | --- | --- |
| 2 | 2 | 2024 |